# بانک

د افغانستان بانك میاشتنۍ مجله

شپاړسم کال، ۱۸۲ مه ګڼه د ۱۴۴۴ کال د صفر المظفر (۱۴۰۱ وږی) میاشت



## د مالي ثبات کمېټې شپږمه غونډه جوړه شوه




# ګرانو هیوادوالو!

بانکونه ستاسو د پیسو ساتلو لپاره یواځینی خوندي ځای دی.

په جواز لرونکو بانکونو کې د امانتونو په اېښودلو سره د ذهني ارامتیا تر څنګ د خپل ځان او بچیانو راتلونکی تضمین کړئ او د هیواد په وده او سوکالۍ کې ونډه واخلئ.



# بانک

## د ګڼې لړلیک / مطالب مجله


| د ګڼې لړلیک / مطالب مجله | مخ |
| --- | --- |
| د معلوماتو د شریکولو او خلکو ته د پوهاوي ورکولو لپاره د تعلیمي او تحصیلي... | ۱ |
| جلسه بورد نظارت شرعی د افغانستان بانك برگزار شد | ۳ |
| د همغږۍ عالي کمیسیون شپږمه غونډه تر سره شوه | ۴ |
| د مالي او بانکي سکتور د بیا رغونې کمېټې غونډه جوړه شو | ۵ |
| افتتاح ساختمان جدید زون شمال د افغانستان بانک در ولایت بلخ | ۶ |
| د مالي ثبات کمېټې شپږمه غونډه جوړه شوه | ۷ |
| د سوداګریزو بانکونو له استازو سره غونډه | ۸ |
| تدویر جلسه با نمایندگان بانک های تجاری | ۹ |
| دیدار سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک از نمایندگی های سرپل و سمنگان | ۱۰ |
| باز سازی و توسعه غرفه د افغانستان بانک در میدان هوایی کابل | ۱۱ |
| بحث مختصر پیرامون نرخ ارز ثابت و شناور | ۱۲ |
| په افغانستان کې د اوبو د بندونو ارزښت | ۱۴ |
| چگونگی مراحل مختلف صادرات و واردات | ۱۶ |
| اقتصادي خبرونه | ۱۹ |
| پور، د پور مدیریت او په کوچنیو او منځنیو تشبثاتو کې د پور رول | ۲۱ |
| نقش ماشین آلات در رشد و تسهیلات صنعت | ۲۵ |
| وزګارتیا ا و د وزګارتیا ډولونه | ۲۸ |



## کاري ډله

د امتیاز خاوند: د افغانستان بانک

کتنپلاوی: صدیق الله خالد، احمد جواد سداد، مفتي عبدالله آخندزاده او خواجه عصمت الله څلاند

سرلیکوال: شفیق الله بارز

مسئول مدیر: حسیب الله نوري

خبریالان: سید خالد خالقیار او عبدالحفیظ شاهین

ډیزاین: خالد احمد فیضي

فوټوژورنالیست: زیرک ملیا

د وېش مسؤل: نصرت الله احمدزی

د چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه



پته: د افغانستان بانک

ټلیفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

برېښنالیک: magazine@dab.gov.af

ویب پاڼه: www.dab.gov.af



د ثبت ګڼه: ۶۵۸



د مضمونونو او مقالو مسئولیت د لیکوالانو پر غاړه دی. د مجلې د مقالو او انځورونو څخه ګټه اخیستنه د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.

مسئولیت مضامین و مقالات به نویسنده‌گان آن بر می گردد. استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.


Da Afghanistan Bank-Youtube    twitter.com/AFGCentralbank    www.facebook.com/AFGCentralbank

# د معلوماتو د شریکولو او خلکو ته د پوهاوي ورکولو لپاره د تعلیمي او تحصیلي ادارو سره د اړیکو د ټینګښت په موخه ګډ بحث



۱۴۴۴ صفر المظفر ۲۴ مه — د افغانستان بانک د سرپرست رئیس ښاغلي عبدالقاهر حاجي ادریس په مشرۍ د افغانۍ د ترویج، د بانکنوټونو د ساتنې، بانکي سکتور د وضعیت او فوریکس د غیر قانوني فعالیتونو په اړه د ارشاد، حج او اوقافو، لوړو زده کړو او پوهنې وزارتونو د معینانو سره د معلوماتو د شریکولو او خلکو ته د پوهاوي ورکولو په موخه ګډه غونډه جوړه شوه.

د افغانستان بانک سرپرست رئیس ښاغلي عبدالقاهر (حاجي ادریس) د غونډې په پیلیزه وینا کې وویل د ویاړ ځای دی چې نن په مهمو ملي موضوعاتو را ټولېږو او ګډ بحث کوو. نوموړي زیاته کړه د څو لسیزو ګډوډیو له امله د افغانستان تولیدي ځواک په کلکه زیانمن شوی او په پایله کې افغانستان په یو وارداتي هیواد بدل او د اسعارو کارول پکې زیات شوي دي. د افغانستان بانک سرپرست رئیس وویل د ملي پیسو څخه ملاتړ چې په حقیقت کې د خلکو د پېر له ځواک څخه ملاتړ دی او اړتیا ده چې په دې برخه کې د ټولو ادارو په ځانګړې توګه له اکاډمیکو ادارو سره ګډ کار وشي.

نوموړي همدارنګه وویل د فوریکس د غیر قانوني فعالیتونو د درولو لپاره چې زمونږ ډېری هیوادوال یې زیانمن کړي دي او پیسې یې ترې وړې دي، پدې برخه کې زمونږ او ستاسو ګډ کار کولای شي په زرګونو هیوادوال د غلو او فریبکارانو په لومو کې له لوېدو وژغوري.

د ښاغلي عبدالقاهر ( حاجي ادریس) په خبره د افغانستان بانک په سختو شرایطو کې وکولای شول چې بانکي سکتور په ښه ډول مدیریت کړي، نوموړي له درنو هیوادوالو وغوښتل چې پر بانکي سکتور باور وکړي او له دې لارې د هیواد په اقتصادي رغونه کې مرسته وکړي.

وروسته د افغانستان بانک د ریاست د دفتر لوی آمر ښاغلي صدیق الله خالد د اړوندو موضوعاتو په اړه معلومات وړاندې کړل او یادونه یې وکړه چې په سوداګریزو راکړو ورکړو کې د افغانۍ ترویج د ټولو افغانانو ملي مسئولیت دی او دا مسئولیت یوازې یوه اداره او یا هم یو ځانګړی نهاد نشي تر سره کولای او په کار ده چې په دې برخه کې بېلابېلې اداري همکاري وکړي او له دې لارې خپل ملي مسئولیت ادا کړي.

نوموړي زیاته کړه چې په ښه ډول د بانکنوټونو ساتنه د ټولو ملي مسئولیت دی او د دې لپاره چې پیسې مو تر ټاکلې

»

مودي وړاندې زړې نه شي، نو اړينه ده چې په سم ډول د پيسو د ساتنې لپاره له بېلابېلو لارو عامه پوهاوى رامنځته شي.

ښاغلي صديق الله خالد وويل پدې وروستيو کې د هيواد په بېلابېلو برخو کې د فوريکس آنلاين په نامه غيرقانوني فعاليتونه تر سره کېږي چې زمونږ ډېرى هيوادوال يې له ستونزو سره مخ کړي او له دوى څخه په بېلابېلو پلمو پيسې وړي. د نوموړي په خبره د افغانستان بانک د فوريکس د آنلاين فعاليتونو لپاره هېڅ اداري او يا هم شخص ته د دې فعاليتونو جواز نه دى ورکړى. ښاغلي خالد وويل د افغانستان بانک له خپله اړخه په دې برخه کې هلې ځلې تر سره کړې دي، خو د دې لپاره چې غوره پايلې تر لاسه شي په کار ده چې د ادارو تر منځ لا ډېره همغږي موجوده وي او نن د همدې همغږۍ او همکارۍ لپاره را غونډ شوي يو او ستاسو ټولو د همکارۍ غوښتنه کوو.

تر هغې وروسته د افغانستان بانک د بانکي څارنې لوى آمر ښاغلي عبدالرحمن حنيف د بانکي سکتور د اوسني وضعيت په اړه د غونډې ګډونوالو ته معلومات ورکړل او يادونه يې وکړه چې د افغانستان بانک مشرتابه پلاوى توانېدلى دى چې په تېرو ١٣ مياشتو کې بانکي سکتور په ښه ډول مديريت کړي او ښې پايلې تر لاسه کړي. نوموړي زياته کړه د افغانستان د اسلامي امارت تر بريا وروسته د اقتصادي چارو کارپوهانو وړاندوينه کوله چې د هيواد بانکي سکتور به د څو مياشتو په لړ کې سقوط شي، د ښاغلي حنيف په وينا نه يوازې دا چې بانکونه سقوط نه شول بلکې د ټولو سوداګريزو بانکونو وضعيت د هرې ورځې په تېرېدو سره د ښه والي پر خوا روان دى. ښاغلي حنيف وويل دا مهال په هيواد کې اسلامي بانکوالي د پراختيا په حال کې ده او هڅې روانې دي چې پر بانکي سکتور د خلکو باور ډېر شي. نوموړي يادونه وکړه چې دا مهال د افغانستان بانک او ماليې وزارت تر منځ تر بل هر وخت زياته همغږي رامنځته شوې او د دې دواړو ادارو تر منځ د مالي او بانکي چارو د ثبات لپاره ګډه کمېټه جوړه شوې ده.

وروسته د افغانستان بانک د پولي سياست لوى آمر ښاغلي احمد جواد سداد د افغانيو د ترويج او بيو د ټيکاو ساتنې چې د افغانستان بانک لومړنۍ موخه ده خبرې وکړې او يادونه يې وکړه چې د افغانستان بانک د بېلابېلو وسايلو په کارولو سره هڅه کوي چې په هيواد کې د بيو ټيکاو وساتي او د ټول هيواد په کچه په افغانۍ د راکړې ورکړې لپاره زمينه مساعده کړي.

تر هغې وروسته د بانکي عملياتو لوى آمر ښاغلي عبدالواحد جبارخيل د افغانۍ د ساتنې او تر وخت وړاندې د بانکنوټونو د زړښت په اړه هر اړخيز معلومات وړاندې کړل. نوموړي يادونه وکړه چې د افغانۍ بانکنوټونه په لوړ کيفيت سره چاپ شوي دي، خو د دې بانکنوټونو ساتنې ته د خلکو نه پاملرنه د دې لامل شوې ده چې تر وخت وړاندې زاړه شي.

بايد وويل شي چې په دې غونډه کې له غير بانکي مالي موسسو څخه د څارنې د لوى آمريت مرستيال ښاغلي شاه پور مياخيل د فوريکس آنلاين فعاليتونو په اړه معلوماتي پريزنټيشن وړاندې کړ او يادونه يې وکړه چې دا ډول فعاليتونه د خلکو په ضرر دي او همدې ټکي ته په کتلو سره د افغانستان بانک پدې اړه کوم شخص يا اداري ته د فعاليت جواز نه دى ورکړى.

په ياده غونډه کې له اړوندو ادارو څخه وغوښتل شول چې د يادو موضوعاتو په اړه له د افغانستان بانک سره همکاري وکړي او د دې ملي مسئوليت په ادا کولو سره خپله ملي دنده تر سره کړي.

د اړوندو ادارو استازو ياد موضوعات د ډېر ارزښت وړ ياد کړل او ژمنه يې وکړه چې له خپله اړخه به په دې برخه کې همکاري کوي او د لا زياتې همکارۍ لپاره د تخنيکي کمېټې پر جوړولو هوکړه وشوه. دا کمېټه به په غونډه کې د ګډونوالو ادارو تر منځ جوړېږي او د پورته ذکر شوو موضوعاتو په برخه کې به کار کوي.

د يادونې وړ ده چې په ياده غونډه کې د نورو مهمو پرېکړو تر څنګ دا پرېکړه هم وشوه چې د پوهنې وزارت په تعليمي نصاب کې د مالي او بانکي لومړنيو مسائلو او د نورو ملي ارزښتونو په ګډون د افغانۍ د ترويج او ساتنې په برخه کې هلې ځلې تر سره شي، تر څو په ټولنه کې د مالي سواد د لوړوالي سبب وګرځي.

د يادونې وړ ده چې په دې غونډه کې د افغانستان بانک دويم مرستيال ښاغلي عبدالقدير احمد او د دې بانک د پاليسۍ ستر سلاکار ښاغلي لطف الحق نور پسرلي هم ګډون درلود.

# د مالي ثبات کمېټې شپږمه غونډه جوړه شوه



د مالي ثبات کمېټې شپږمه غونډه جوړه شوه په یاده غونډه کې د افغانستان بانک سرپرست رئیس ښاغلي عبدالقاهر حاجي ادریس د مالي ثبات کمېټې د مسئولیت، ارزښت او اړتیا په اړه هر اړخیزه خبرې وکړې. نوموړي د خپلو خبرو په ترځ کې زیاته کړه چې د افغانستان بانک د معقولو پولي سیاستونو په تطبیق سره وکړای شول چې بانکي سکتور په ښه ډول مدیریت کړي او مثبتې پایلې تر لاسه کړي.

باید وویل شي چې په یاده غونډه کې د مالیې وزارت وزیر ښاغلي هدایت الله بدري هم خبرې وکړې او د مالي ثبات کمېټې د غونډو د دوام غوښتنه یې وکړه. تر هغې وروسته د مالي ثبات کمېټې سکرتریت مسئول ښاغلي عبدالحسیب امانت د بانکي سکتور د ستونزو، ننګوونو، حل لارو او همدارنګه د مالي ثبات کمېټې د ارزښت، اړتیا، صلاحیتونو او لاسته راوړنو په اړه معلوماتي پریزنټېشن وړاندې کړ.

د دې پریزینټېشن د وړاندې کولو پر مهال د مالیې د محترم وزارت او د افغانستان بانک د همکارانو تر منځ پر بانکونو د خلکو د باور رامنځته کولو او یو شمېر نورو اړوندو موضوعاتو نظرونه تبادله شول.

باید وویل شي چې په دې غونډه کې پرېکړه وشوه چې د مالي او بانکي نظام د ټیکاو لپاره د په میاشتني ډول د مالي ثبات کمېټې غونډې تر سره شي، تر څو ستونزو ته پر وخت رسېدنه وشي او چارې په ښه ډول مدیریت شي.

# د همغږۍ عالي کميسيون شپږمه غونډه تر سره شوه



د ۱۴۴۴ کال د صفر المظفر ۱۰ مه – د افغانستان بانک د سرپرست رئيس ښاغلي عبدالقاهر (حاجي ادريس) په مشرۍ چې په ورته وخت کې AML/CFT رژيم د تطبيق د مالي او اقتصادي جرايمو څخه د مخنيوي د همغږۍ عالي کميسيون رئيس هم دی، غونډه جوړه شوه.

د دې غونډې په پيل کې د افغانستان بانک سرپرست رئيس ښاغلي حاجي ادريس يادونه وکړه چې د پيسو مينځل د هغو سازمان شويو جرمونو څخه دي چې نن سبا يې د نړۍ پام ځان ته را اړولی دی او اسلامي تعليمات او ارشادات له ابتدا څخه هڅه کوي چې د حرامو اعمالو په پايله کې لاسته راغلې شتمنۍ د جرم په توګه و پېژني او پر وړاندې يې مبارزه وکړي.

د نوموړي په خبره د يو عادل نظام او د با مسئوليته واکمنانو په توګه بايد زمونږ ګډې هڅې دا وي چې د مالي جرمونو پر وړاندې په جدي توګه مبارزه وکړو او له منفي اغېزو يې تر ډېره برېده مخنيوی وکړو.

ښاغلي حاجي ادريس وويل چې د مالي اقداماتو ګروپ (FATF) سپارښتنې پلي کېدل کولای شي د افغانستان د مالي سکتور د راتلونکې ارزونې په برخه کې مرسته وکړي او په نړيوالو سازمانونو کې د افغانستان غړيتوب خوندي او په ټوله کې د افغانستان اسلامي امارت سره د تعامل زمينه مساعده کړي.

وروسته د مالي راپورونو او معاملو د شننې مرکز کاري ټيم د دې مرکز د خپلواکۍ، د دندو، مسئوليتونو او لاسته راوړنو په اړه هر اړخيزه معلومات وړاندې کړل.

د يادونې وړ ده چې د په دې غونډه کې د ماليې، عدليې، بهرنيو او کورنيو چارو وزارتونو، د استخباراتو د لوی رياست او لويې څارنوالۍ استازو ګډون کړی وو چې هر يو په خپل وار سره د ياد مرکز لاسته راوړنې وستايلې او له خپله اړخه يې د هر ډول همکارۍ ژمنې وکړې.

# د مالي او بانکي سکتور د بیا رغونې کمېټې غونډه جوړه شو







د ۱۴۴۴ کال د صفر المظفر ۱۳ مه – د افغانستان بانک د سرپرست رئیس ښاغلي عبدالقاهر ( حاجي ادریس) په مشرۍ د مالي او بانکي سکتور د بیا رغونې د عمل پلان په اړه غونډه جوړه شوه.

په یاده غونډه کې د دې پلان په اړه هر اړخیز بحث او د نظرونو تبادله تر سره او پدې اړه د بانکي څارنې د لوی آمریت د کارکوونکو لخوا د یو پریزنټېشن له لارې معلومات شریک شول.

د افغانستان بانک سرپرست رئیس ښاغلي حاجي ادریس د مالي او بانکي سکتور د بیا رغونې د عمل پلان د خورا ارزښت وړ یاد کړ او یادونه یې وکړه چې دا پلان کولای شي د مالي او بانکي سکتور برخې په ښه ډول بریالیتوب ته ورسوي.

باید وویل شي چې دا پلان په درېیو برخو کړکېچ، نارمل کېدل او پرمختګ برخو کې ترتیب شوی دی او ډېر ژر به عملي او له درنو هیوادوالو او اړوندو ادارو سره شریک کړل شي.

# افتتاح ساختمان جدید زون شمال د افغانستان بانک در ولایت بلخ



۱۷ صفرالمظفر ۱۴۴۴ – محترم عبدالقاهر (حاجی ادریس) سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک و هیئت همراهش به ولایت بلخ سفر نموده و ساختمان جدید زون شمال د افغانستان بانک را در شهر مزارشریف مرکز این ولایت افتتاح کردند.

در جریان افتتاح ساختمان جدید این زون، محترم عبدالقاهر (حاجی ادریس) سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک گفت که د افغانستان بانک متعهد است که تسهیلات مالی و بانکی لازم را برای شهروندان عزیز فراهم کند. به گفته وی، این تعمیر مجهز با تکنالوژی روز بوده و تمامی امکانات لازم در نظر گرفته شده است که می تواند در ارائه خدمات به موقع و بهتر به شهروندان کمک کند.

قابل ذکر است که محترم عبدالقدیر احمد معاون دوم د افغانستان بانک نیز در این سفر سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک را همراهی می کرد. محترم معاون دوم د افغانستان بانک در حاشیۀ این سفر با کارمندان زون شمال از نزدیک دیدار نموده و از آنان خواستند تا با صداقت کامل بهترین خدمات را برای شهروندان ارائه نماید.

گفتنی است که این ساختمان در زون شمال د افغانستان بانک در پنج طبقه اعمار شده و دارای ۲۲ اتاق می باشد که ۳۷ میلیون افغانی هزینه برداشته است.

قابل یادآوری است که در افتتاحیه ساختمان زون شمال، محترم مولوی قدرت الله ابوحمزه والی ولایت بلخ در زمینه توسعه بانکداری اسلامی در کشور تاکید نموده و این سکتور را با ارزش خواند. باید گفت که در این مراسم روسای ادارات مختلف و نمایندگان اتحادیه صرافان نیز اشتراک داشتند.

شایان ذکر است که محترم عبدالقاهر (حاجی ادریس) سرپرست د افغانستان بانک و هیئت همراه شان در سفر به ولایت بلخ از کانال قوش تیپه نیز بازدید کرده و اعمار این کانال را از نظر اقتصادی حائز اهمیت خواند.

# جلسه بورد نظارت شرعی د افغانستان بانک برگزار شد



۶ صفرالمظفر ۱۴۴۴ – جلسه شریعه بورد نظارتی از طرف محترم عبدالقاهر (حاجی ادریس) سرپرست ریاست کل د افغانستان بانک افتتاح شد که در این جلسه موضوعات مختلف بانکداری اسلامی بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

سرپرست ریاست کل د افغانستان بانک در افتتاح این جلسه خاطرنشان کرد که د افغانستان بانک به رشد و توسعه بانکداری اسلامی در کشور متعهد است و از هیچ نوع تلاشی با شریعه بورد نظارتی در این زمینه کوتاهی نخواهد کرد.

وی افزود که شریعه بورد نظارتی و علمای دینی در سیستم مالی و بانکی افغانستان جایگاه ویژه ای دارند و در حال حاضر این بورد در تمامی بانک های دولتی و غیردولتی وجود دارد تا مقررات، رهنمودها، طرزالعمل ها و فعالیت های مربوطه را از دید شرعی بررسی و نظارت کنند.

باید گفت در حال حاضر بانکداری اسلامی در کشور در حال توسعه است و این بانکداری به طرف رشد و توسعه در حرکت است.

# د سوداګریزو بانکونو له استازو سره غونډه



۱۴۴۴ محرم الحرام ۲۹ مه – د افغانستان بانک د لومړي مرستیال ښاغلي نوراحمد آغا پر مشرۍ د سوداګریزو بانکونو له استازو سره غونډه جوړه شوه او د پیسو لېږد (TT)، بیمې، بانکي تضمینونو او یو شمېر نورو مالي او بانکي موضوعګانو په اړه پکې خبرې وشوې.

په یاده غونډه کې د افغانستان بانک لومړي مرستیال ښاغلي نوراحمد آغا د سوداګریزو بانکونو له استازو وغوښتل چې د پېرودونکو لپاره د بانکي چوپړتیاوو د وړاندې کولو په برخه کې اړینې آسانتیاوې رامنځته کړي.

نوموړي د افغانستان بانک له اړخه درنو هیوادوالو ته د غوره بانکي چوپړتیاوو د وړاندې کولو په موخه له بانکونو سره د اصولو او مقرراتو په رڼا کې د هر ډول همکارۍ ژمنه وکړه.

په یاده غونډه کې د افغانستان د بانکونو د ټولنې او د سوداګریزو بانکونو استازو د ذکر شویو موضوعګانو په اړه خبرې وکړې او له خپله اړخه یې د غوره بانکي چوپړتیاوو د وړاندې کولو ژمنه وکړه.

# تدویر جلسه با نمایندگان بانک های تجاری







۱۳ صفر المظفر ۱۴۴۴ – جلسه ای با نمایندگان بانک های تجارتی به ریاست محترم عبدالرحمن حنیف آمر عمومی نظارت بانکی د افغانستان بانک در زمینه انتقالات پول (TT) تدویر گردید.

در این جلسه محترم عبدالرحمن قانت آمر عمومی نظارت بانکی از طرف د افغانستان بانک وعده همکاری نموده و تعهد نمود که در این زمینه تسهیلات لازم را برای بانک های تجارتی ایجاد خواهد کرد. وی گفت که د افغانستان بانک متعهد است که بیش از هر وقت دیگر تسهیلات بیشتر را برای بانک های تجاری در زمینه انتقال پول (TT) ایجاد نماید.

وی از نمایندگان بانک های تجاری خواست تا خدمات لازم و به موقع را به مردم عزیز کشور ارائه کنند و تسهیلات بیشتری برای آنها ایجاد کنند.

گفتنی است که نمایندگان بانک های تجارتی در این جلسه مشکلات و پیشنهادات خود را با نمایندگان ادارات مربوطه د افغانستان بانک در میان گذاشتند و در مورد بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

# دیدار سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک از نمایندگی های سرپل و سمنگان



۲۱ صفر المظفر ۱۴۴۴ – محترم عبدالقاهر (حاجی ادریس) سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک از نمایندگی های سرپل و سمنگان دیدار نمود.

هدف از این سفر ایجاد هماهنگی و تسریع روند اجراآت نمایندگی ها، ملاحظه و ارزیابی مشکلات و چالش ها و فراهم آوری سهولت های لازم برای رفع آنها و ترغیب کارمندان به خدمتگذاری به مردم می باشد.

در این دیدار محترم عبدالقاهر حاجی ادریس مشکلات کارمندان نمایندگی های یاد شده را استماع نموده و هدایات لازم را به ادارات مربوطه جهت حل آنها صادر نمود.

محترم حاجی ادریس سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک از کارمندان این نمایندگی ها خواست تا در راستای خدمت به مردم کار خود را با صداقت، صمیمیت و مسئولیت کامل انجام دهند.

کارمندان نمایندگی های یاد شده در ولایت های سرپل و سمنگان نیز وعده دادند که از هیچ تلاشی برای پیشرفت امور کوتاهی نخواهند کرد و با صداقت کامل به مردم خدمت خواهند کرد.

# باز سازی و توسعه غرفه د افغانستان بانک در میدان هوایی کابل




۲ صفر المظفر ۱۴۴۴ – د افغانستان بانک به منظور ارائه خدمات بهتر و به موقع به تجار و مردم عزیز کشور غرفه خود را که قبلاً در میدان هوایی کابل موقعیت داشت، توسعه داده و با وسایل عصری مجهز ساخته است که پاسخگوی نیازمندی های کنونی مردم و تجار می باشد.

محترم فدا محمد فیضان، آمر عمومی زون ساحوی مرکز د افغانستان بانک حین سخنرانی افتتاحیه گفت که با فعال شدن غرفه این بانک که با وسایل عصری وقت مجهز می باشد در میدان هوایی کابل، تسهیلات لازم برای تجار عزیز کشور فراهم خواهد شد و تمامی عواید میدان هوایی کابل از طریق سیستم بانکی به خزانه دولت واریز میشود.

باید گفت که د افغانستان بانک در تلاش است تا تسهیلات لازم را در عرصه های مختلف مالی و بانکی برای شهروندان عزیز ایجاد نماید.



# بحث مختصر پیرامون نرخ ارز ثابت و شناور

نرخ ارز ثابت عبارت از ارزش پول یک کشور در محدوده مشخص و مورد نظر دولت ها می باشد. بیشتر کشور های جهان از سال ۱۹۷۰ به این سو توجه بیشتر خود را به آن معطوف داشته و در جهت پیاده سازی آن جدیت به خرج داده اند. نرخ ارز ثابت مزایای زیادی برای بانک های مرکزی و دولت ها دارد. نرخ ارز ثابت عبارت از وسیله است که باعث بهبود امور صادر کنندگان و وارد کنندگان گردد.

نرخ ارز ثابت در بلند مدت برای دولت ها یک نوید خوب است، زیرا در پرتو آن نرخ سود کاهش یافته، باعث تقویت تجارت و سرمایه گذاری می گردد. روی همین علت است که بسیاری از کشور های بزرگ صنعتی از نرخ ارز ثابت استفاده می نمایند.

سیستم ارز با ثبات این نوید را به سرمایه گذاران، صادر کنندگان و وارد کنندگان می دهد که بدون نگرانی بتوانند در مورد تهدید های ارزی پیش روی خود تصمیم و آمادگی های لازم را روی دست بگیرند. نرخ ارز ثابت می تواند در صورت پُر ارزشی یا کم ارزشی ارز کشور، امکان تعدیلات در بازار ارز روی کار آمده و مانع نوسانات شود.

اگر نرخ ارز غیر واقعی در بازار ارز حکم فرما شود، حالت دوگانگی قیمت ایجاد شده و در آنصورت کنترول بازار ارز از صلاحیت بانک مرکزی خارج می گردد که در نهایت منجر به کاهش دوره ی نرخ ارز و کمبود ارز می گردد. در شرایط امروزی، اقتصاد هر کشور به عنوان یکی از اساسی ترین عوامل




تعیین کننده جایگاه آن کشور را در سطح بین المللی ثابت می سازد.

نوسانات پول ملی کشور ها در برابر پول خارجی یا نوسانات نرخ ارز همواره یکی از چالش های دوره ی در بسیاری از کشور های توسعه نیافته بوده است. این در حالی است دایره این گونه نوسانات در اقتصاد کشور های پیشرفته به مراتب کمتر دیده می شود.

در مجموع، ارزش پول ملی یک کشور نسبت به پول سایر کشور ها مربوط به تابعی از نظام ارزی حاکم بر آن کشور می باشد. در چنین وضعیت نظام ارزی یک کشور با بیلانس پرداخت های آن ارتباط متقابل دارد، زیرا نظام های ارزی برای اصلاح کسر یا مازاد خود باید پایدار باشد. انتخاب سیستم ارزی بر بسیاری از متغیر های اقتصادی می تواند نقش اساسی را در اقتصاد هر کشور ایفاء نماید.

در مورد ارز شناور باید گفت که اگر از طرف دولت ها نرخ برابری ارز ها کنترول نشود، بازار های میانه آزاد فعالیت خود را آغاز کند، در چنین حالت نرخ ارز کاملاً به شکل آزاد و بر پایه ی نرخ های شناور تعیین می شود. در این سیستم نرخ ارز به کمک شرایط عرضه و تقاضای ارز تعیین می شود.

در این شیوه نرخ های مذکور وقتی تثبیت می گردد که عرضه و تقاضای ارز معادل یک دیگر شوند. بعضی اقتصاد دانان به این نظر اند که سیستم نرخ ارز شناور در مقایسه به سیستم نرخ ثابت مزایای بیشتر دارد. به طور مثال سیستم ارز شناور موجب تخصیص بهینه منابع تولید از طریق فعالیت آزادانه مکانیزم قیمت می شود.

عبدالحفیظ شاهین

منابع:

۱-روش های تعیین نرخ ارز | ارزش پول کشور چگونه تعیین می‌شود؟ / https://karduk.com

۲-کیف یتم تحدید أسعار الصرف الدولیة؟ - ۰۸.۰۱.۲۰۱۸, / https://sputnikarabic.ae

How Are International Exchange RatesSet? / **https: //Investopedia.com**



# په افغانستان کې د اوبو د بندونو ارزښت

افغانستان د اوبو لرلو له کبله هغه بډایه هیواد دی چې نږدې ۷۵ میلیارده متره مکعب د اوبو ذیرمه کولو کلنی جریان لري چې له دې اوبو څخه ۳۰ سلنه ګټه د کرنې لپاره اخلي او پاتې ۷۰ سلنه نورې اوبه ګاونډیو هیوادونو ته بهیږي.

معلومات ښیي چې په هیواد کې ۱۳۰ کوچني او لوی سیندونه شتون لري چې د هغې له ډلې ۴۳ لوی سیندونه دي او پاتې ۸۷ نور یې کوچني دي. په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره د اوبو بندونو جوړولو کارونه د امان الله خان د پاچاهي په وخت کې پیل شول، د نوموړي د حکومت له ړنګېدو سره سم د بندونو جوړولو لړۍ هم ودرول شوه او په ۱۹۵۰ کال کې د محمد ظاهر شاه د حکومت په دوران کې د لویو بندونو کارونه یو ځل بیا له سره پیل شول، خو د شاهي نظام په ړنګېدو دا بندونه نابشپړ پاتې شول.

د وخت په تېرېدولو سره د افغانستان د اوبو بندونو جوړولو کارونه بیا پیل شول چې تر دې مهاله د یو شمېر بندونو د رغونې چارې بشپړې شوې او د یو شمېر نورو یې لا هم نا بشپړې پاتې دي. دې برخې ته پاملرنه کولای شي افغانستان د برېښنا د تولید په برخه کې پر ځان بسیا او د کرنیزو ځمکو د خړوبېدو لپاره لاره هواره کړي.

افغانستان یو کرنیز هیواد دی چې ټولټال ۹،۶۱ میلیونه هکتاره

»

کرنیزه ځمکه لري چې د افغانستان د ټول مساحت ۱۴،۷۳ سلنه ځمکه جوړوي. له يادې ځمکې يوازې ۵،۳۲۴ میلیونه هکتاره کرل کیږي او پاتې ۴،۲۸۶میلیونه هکتاره ځمکه شاړه پاتې کیږي.

که دې برخې ته پاملرنه زیاته شي یاده ځمکه به د اوبو لاندې راشي چې د هیواد د کرنیز اقتصاد په جوړونه کې به ډېره مرسته وکړي.

معلومات ښيي چې اوسمهال په ټول افغانستان کې یوازې ۱۹ سلنه بریښناپه کور دننه تولیدیږي او ۸۱ سلنه نوره بریښنا د ګاونډیو هیوادونو څخه تر لاسه کیږي چې په وارداتي بریښنا باندې هر کال په سلګونو میلیونه امریکایي ډالره لګښت راځي.

د افغانستان د بریښنا شرکت د معلوماتو پر بنسټ افغانستان په تېرو ۹ کلونو کې د وارداتي بریښناپه بدل کې۹۷۳ میلیونه امریکایي ډالر هغو هیوادونو ته ورکړي دي چې په افغانستان بریښنا پلوري. افغانستان پداسې حال کې بهرنیو هیوادونو ته د بریښنا په بدل کې هر کال په میلیونونو امریکایي ډالر ورکوي چې دا هیواد په کور دننه د بریښنا د تولید لپاره ډېر فرصتونه لري او کولای شي چې په کور دننه تر ۲۳ زرو میګاواټو پورې بریښنا تولید کړي.

که چېرته په کور د ننه د بریښنا د تولید غمه وخوړل شي او د بریښنا بندونه جوړ شي لیرې نه ده چې افغانستان به بهرنیو هیوادونو ته د بریښنا په بدل کې د پیسو له ورکولو خلاص شي، بلکې هغه پیسې چې دا مهال بهرنیو هیوادونو ته ورکول کیږي په نورو پراختیایي پروژو کې ولګول شي.

د اوبو د بندونو جوړول نه یوازې دا چې د بریښنا د تولید او کرنې په برخه کې د ارزښت وړ دي بلکې د طبیعي آفتونو د مخنیوي برخه کې هم د ارزښت وړ رول لري. په افغانستان کې هر کال د بارانونو په موسم کې په بېلا بېلو سیمو کې سیلابونه راځي چې ددغې سیلابونو په راتګ سره د کښت ځمکې په شاړو، دښتو او بیابانونو  بدلیږي چې دا چاره د سیمو خلکو ته مالي او ځاني زیانونه اړوي.

په لنډ ډول ویلای شو چې دافغانستان په ټولو سیندونو کې مجموعي ډول له ( ۲۴) څخه تر (۵۵) میلیارده متره مکعبه تخمین شوې دي چې دهغې د جملې څخه (۲۸) سلنه اوبه د اقتصادي فعالیتونو لکه د کرنې، بریښنا او نورو اړتیاوو لپاره پکار وړل کیږي او (۷۲) سلنه اوبه بدون له کومې استفادې  دافغانستان له خاورې بهر ځي.

**د اوبو بندونو جوړولو پر وړاندې شته ننګونې:**

- د مالي سرچینو نشتون.
- د بودجې نشتون.
- زیات وخت ته اړتیا لري.
- د ګاونډیو هیوادونو مخالفتونه.
- د بندونو پالیسي نشتون.
- د اوبو هوکړه لیک نشتون(پرته له ایران څخه)

لیکنه: سیدخالد خالقیار

---

سرچينې:

۱– زېربنايي پروژې د اوبوبندونه او وروستي پرمختګونه.

۲– افغانستان روان کال کې ۴۴ بندونه جوړوي.

۳– افغانستان کې روانه جګړه د اوبو بندونو لپاره لوی ګواښ دی

۴– د کنړ پر سیند د بندونو د نه جوړیدو عوامل

۵– نړۍ کې د اوبو بندونو جوړولو تاریخ او بهیر؛ کوم هیواد تر نورو مخکې دی؟

# چگونگی مراحل مختلف صادرات و واردات

این یک امر مسلم است که صادرات کالا عامل اصلی توسعه اقتصادی کشور ها پنداشته می شود، اما در پروسه صادرات کالا لازم است که علاوه بر شناخت قوانین بین المللی با قوانین داخلی کشور های دریافت کننده کالا نیز آشنا باشیم. روی همین علت کارشناسان اقتصادی و تاجران با تجربه مراحل صادرات کالا را به کشور های مختلف به چهار دسته تقسیم نموده اند که عبارت اند از: ۱) صادرات کالاهای بهتر، ۲) تعیین ستراتیژی برای کالاهای صادراتی، ۳) شناخت نیاز بازار و ۴) چگونگی پروسه صادرات.

شناخت قوانین صادرات کالا و آشنایی با مراحل مختلف آن یک امر ضروری می باشد. باید یاد آور شد که علاوه بر شناخت تیوری قوانین به تجربه عملی نیز نیاز است. روی همین علت است که صاحبان شرکت های تازه تأسیس شده قبل از همه در مورد صادرات کالا با افراد با تجربه مشورت کرده و بر اساس لزوم دید و مشوره آنها به فعالیت های صادراتی شان می پردازند.

اینکه صادرات کدام کالا ها بهتر است، باید توجه صورت گیرد که تعیین یک کالا به عنوان کالای صادراتی مهم می باشد. بهترین راه برای این کار این است که قبل از اقدام به صادرات کالا شناسایی بازار به طور دقیق صورت گرفته باشد. زیرا صادرات کالا و بازار یابی با هم ارتباط تنگاتنگ دارند.

بهترین راه برای انجام این مرحله این است که شما مرحله قبل یعنی مرحله شناسایی نیاز بازار را به درستی به انجام رسانیده باشید. در واقع می توان گفت که این دو مرحله ارتباط کاملا مرتبط با یکدیگر دارند، به این صورت که شما با بررسی نیاز بازار کشورهای مختلف متوجه می شوید که هر کشوری به چه کالایی نیاز دارد و لذا با پاسخگویی به این سوال می توانید به راحتی مشخص کنید که صادرات کدام کالا می تواند برای شما سود بیشتری را فراهم نماید.

بنابراین پیش از هر اقدامی در این زمینه لازم است که کالای صادراتی خود را براساس نیاز کشوری که به عنوان کشور دریافت کننده کالا در نظر گرفته شده است، تعیین نمایید.

یک موضوع مهم دیگری که به آن توجه شود عبارت از تعیین یک کالا به عنوان کالای صادراتی می باشد. بهترین راه در این مرحله این است که مرحله شناسایی بازار به درستی انجام یافته باشد. کدام کشور به چه کالایی نیاز دارد، با پاسخ گویی به این سوال امکان دارد به راحتی مشخص گردد که صادرات کدام کالا می تواند بیشتر سود آور باشد.



در مورد واردات کالا باید گفت که این برنامه دو مرحله دارد، مرحله اول آن مربوط به واردات کالا، نامه نگاری و در خواست قیمت بوده، مرحله دوم آن مربوط به ترخیص کالا می باشد. نگارش حرفه ای نامه نگاری تجارتی عبارت از تهیه ی نامه توسط یک نفر کارشناس حرفه ای مسلط بر زبان خارجی و دانش تجارتی است. زیرا برای درخواست قیمت لازم است تا خریدار باید دقیق بداند که به چه کالا به کدام مشخصات ضرورت دارد تا آنرا به فروشنده اعلام و درخواست قیمت نماید. بخش های مختلف برنامه های تجارتی بخصوص صادرات و واردات هرکدام زبان تخصصی خود را دارد، بیشتر اوقات خریداران جهت ارزیابی طرف مقابل یا کیفیت محصول به بر رسی و اطلاعات بیشتر نیاز دارد. این گونه اطلاعات را می توانند از بروشور و سایر ابزار های لازم جهت بازار یابی و تحصیل محصول از شرکت مربوطه بدست آورد که آنرا بنام تقاضای اطلاعات یاد می کنند.

بعد از اعلام وتثبیت قیمت، یکی از دغدغه های اصلی و همیشگی خریدار و فروشنده موضوع قیمت است. این یکامر طبیعی است که خریدار به دنبال کاهش قیمت و فروشنده درپی افزایش قیمت می باشند که بنام چانه زنی یادمی شود. نکته مهم در چانه زنی این است که قبل از تعیین دقیق کیفیت و مشخصات کالا چانه زنی صورت نگیرد. در این مورد بهتر است که درخواست تخفیف در آخر پروسه همراه با دلیل و برهان قانع کننده مطرح شود.

در اخیر بعد از بر رسی های خریدار و نهایی شدن شرایط اولیه ی معامله، فروشنده اقدام به صدور پروفارم نموده و به احتمال زیاد قرار داد فروش میان طرفین امضاء می گردد.

بعد از نهایی شدن سفارش، پروفارم یا نرخ نامه تحت یک تعداد شرایط خاص اخذ میگردد. در پروفارم نام و آدرس کامل فروشنده و خریدار، شماره و تاریخ صدور همراه با تاریخ اعتبار آن، مشخصات کامل کالاباشرح کیفی، کمی، تعداد، مقدار، ابعاد، وزن خالص و ناخالص آن، ذکر شماره تعرفه گمرکی، مبدا و مقصد نهایی کالا به شمول شرح بنادر یا محل بارگیری و تخلیه، وسیله حمل و نقل کالا و نام کشور سازنده در آن درج می گردد.

در برنامه صادرات و واردات اسناد اعتباری خیلی مهم پنداشته می شود. اسناد اعتباری عبارت از تعهدی است که از سوی بانک خریدار به بانک فروشنده داده می شود. در نظام تجارت بین المللی، آنگاهی که خریدار از یک کشور و فروشنده از کشور دیگر باشد اهمیت بسزایی دارد.

در مورد نحوه ی پرداخت در این مورد باید گفت که بحث تبادل کالا با وجه آن، طرفین همواره به دنبال بهره گیری از بهترین و ایمن ترین شیوه می باشند. در این سیستم انتخاب رویه مناسب برای تبادل وجه کالا در نحوه تجارت بین المللی به علت پیچیده گی های که دارد انتقال پول روز بروز اهمیت مضاعف پیدا می کند. در انتقال پول عواملی چون فاصله میان کشور ها، موضوع روابط سیاسی و دیپلماسی میان آنها، موضوع حمل و نقل، تفاوت واحد های پولی و نوسانات ارز، استفاده از کانال های مختلف انتقال پول باعث شده است تا صادر کنندگان و وارد کنندگان به موارد فوق توجه بیشتر داشته باشند.

انتخاب رویه مناسب برای تبادل وجه با کالا در تجارت بین الملل به علت مسائل و پیچیده گی های انتقال پول و کالا اهمیت مضاعف پیدا میکند.عواملی چون فاصله ی کشور ها و روابط دیپلماسی و سیاسی بین کشور ها، مباحث مربوط به حمل و نقل ،تفاوت واحد های پولی و به تبع آن تبدیل واحد های پولی و نوسانات نرخ ارز و استفاده از کانال های انتقال پول باعث شده اند صادرکنندگان و واردکنندگان کالا توجه بیشتری به این مسئله داشته باشند. از دید علمی شیوه های پرداخت بین طرفین به چهار دسته ذیل مانند انتقالات بانکی و حواله ای، پرداخت توسط چک های بانکی، اسناد اعتباری، و وصول اسنادی تقسیم شده است.

عبدالحفیظ شاهین

منابع:
۱- مراحل واردات کالا از ابتدا تا انتها https://irclearance.com › marahe
۲- Export & Import - Procedure and Documentation / https://www.slideshare.ne
۳- لأستیراد والتصدیر قائمة الإجراءات الجمرکیة https://eservices.zatca.gov.sa › sites



# له چین سره د منځنۍ آسیا له لارې د نوي ځمکني دهلیز پرانیستل،سوداګریزې آسانتیاوې رامنځته کوي

د افغانستان، ازبکستان، چین او قرغزستان ترمنځ د نوي اقتصادي دهلیز رامنځته کېدل د افغانستان د اقتصادي پرمختګ په برخه کې مهم رول لوبولای شي.

په دې وروستیو کې د اوسپنې پټلۍ اداري د افغانستان، ازبکستان، چین او قرغزستان ترمنځ د نوي اقتصادي دهلیز رامنځته کېدو خبر ورکړی.

افغانستان مخکې د قزاقستان او ازبکستان له لارې له چین سره سوداګري لرله چې هم لار اوږده وه او هم یې لګښت زیات و، خو دا چې قرغزستان او چین هېوادونه له یو بل سره نږدې دي، له دې سره به د افغانستان او چین ترمنځ صادرات او واردات په کم وخت او لږ لګښت سره افغانستان او چین هېوادونو ته ورسېږي.

د معلوماتو له مخې د دې اقتصادي دهلیز تړون د اوس لپاره د درېیو میاشتو لپاره په امتحاني ډول لاسلیک شوی چې پر مټ به یې له چین څخه سوداګریز توکي لومړی قرغزستان او تر هغې وروسته به د ازبکستان اوسپنې پټلۍ پر مټ افغانستان ته راوړل کېږي او په همدې ډول د افغانستان صادراتي توکي به هم همدا پړاوونه تر سره کوي.

دا اقتصادي دهلیز له څو اړخیزو ترانسپورتي سیستمونو څخه ترکیب دی چې په ځینو برخو کې له موټرو او ډېره برخه به د اوسپنې پټلۍ له لارې لېږدونې ترسره کوي. د دې اقتصادي دهلیز په عملي کېدو سره به هغه سوداګریز توکي چې مخکې د سړکونو له لارې له چین څخه د دوو میاشتو په موده کې هېواد ته را رسېدل او یا هم چین هېواد ته د افغانستان صادراتي توکي رسېدل، اوس دا چاره یوازې په دوه اونیو کې تر سره شي.

معلومات ښیي چې د روانې وږې میاشتې له ۱۱نېټې څخه بیا د همدې میاشتې تر ۱۷نېټې د حیرتان، اقینې او تورغنډۍ د اوسپنې پټلۍ له لارې ۴۷۴۵۷ ټنه واردات چې نفتي او غیر نفتي مواد پکې شامل دي، تر سره شوي دي. همدارنګه د اوسپنې پټلۍ له لارې په همدې موده کې ۲۵۴۴ټنه صادرات هم تر سره شوي چې زیاته برخه یې ممیز تشکیلوي.

هېره د نه وي چې د صادراتو د کچې لوړوالی د اسعارو د راتګ لامل کېږي او دا چاره کولای شي د افغانستان بانک سره د پولي سیاست په تطبیق کې مرسته وکړي. په ورته وخت کې د هېواد په ادائینز بیلانس کې مثبت تغییر رامنځته کوي او په ټول کې د هېواد د اقتصادي ودې لپاره ګټور ثابتېږي.

# اقتصادي خبرونه




**د نوي اقتصادي دهلېز له لارې د سوداګریزو توکو لومړۍ جوپه حیرتان ته راورسیده**

د افغانستان، ازبکستان، قرغزستان او چین هیوادونو ترمنځ د نوي رامنځ ته شوي اقتصادي دهلېز له لارې د سوداګریزو توکو لومړۍ جوپه د افغانستان اوسپني پټلۍ له لارې حیرتان بندر ته را ورسېده.

د دغه اقتصادي دهلېز د عملي کېدو چارو د افتتاح او د لومړۍ جوپې سوداګریزو توکو د را رسېدو په مناسبت د بلخ اوسپني پټلۍ ریاست له لوري ځانګړي مراسم ترتیب شوي وو، چې د اوسپنې پټلۍ اداري مالي او اداري مرستیال مولوي خان محمد مذهبي او مل پلاوي، د بلخ والي مولوي قدرت الله ابوحمزه، د بلخ اوسپني پټلۍ ریاست سرپرست، د چین او ازبکستان استازو او د بلخ ولایت ملکي او نظامي چارواکو پکې ګډون کړی وو.

په غونډه کې د بلخ والي دغه اقتصادي دهلېز د هیوادونو د اقتصادي پرمختګ لپاره ارزښت لرونکی وباله. په همدې حال کې د اوسپني

»

پټلی اداري مالي او اداري مرستیال وویل، چې دغه اداره هڅه کوي چې سوداګرو ته نورې اسانتیاوې هم برابرې کړي، تر څو سوداګر وکولای شي په اسانی سره توکي وارد او صادر کړي چې دا چاره به د هیواد په اقتصادي پرمختګ کې یو غوره ګام وي.

د غونډې په دوام د بلخ دولتي چارواکو او د ازبکستان او چین استازو هم ویناوې وکړې او نوی اقتصادي دهلېز یې مهم وباله.

**اوکراین به افغانستان ۳۰ هزار تن غله اهدا کرد**

انتونی بلینکن، وزیر خارجهٔ ایالات متحده گفته است که اوکراین برای رسیدگی به بحران بشری موجود در افغانستان، ۳۰ هزار تن غله به این کشور اهدا کرده است.

وزیر خارجهٔ امریکا که در حاشیهٔ مجمع عمومی سازمان ملل متحد، میزبان نشستی در مورد مصوونیت غذایی در جهان بود، در یک پیام تویتر از کمک غذایی اوکراین به افغانستان خبر داد.

آقای بلینکن نوشت: "با وصف مشقت ناشی از تهاجم ظالمانهٔ روسیه، اوکراین ۳۰ هزار متریک تن غله را از طریق برنامهٔ غذایی جهان به افغانستان اهدا کرده است تا بحران بشری را در آن کشور تسکین ببخشد."

آقای بلینکن در ادامهٔ این تویت نوشته است که اوکراین همچنین ۵۰ هزار متریک تن غله را به اتیوپیا و سومالیا نیز کمک کرده است.

پس از مسلط شدن امارت اسلامی بر افغانستان که منجر به توقف کمک‌های خارجی به دولت افغانستان و نیز انجماد دارایی های بانک مرکزی افغانستان در خارج شد، این کشور دستخوش بحران شدید و کم پیشینهٔ بشری و اقتصادی شده است.

به تازگی ملل متحد با نشر گزارشی هشدار داده است که قرار است تا نومبر سال جاری، حدود شش میلیون نفر در افغانستان از رهگذر گرسنگی در وضعیت عاجل قرار خواهند گرفت.

در این گزارش آمده است که پس از ماه نومبر که فصل زمستان در افغانستان است، احتمالاً عدم مصوونیت غذایی شدید و مرگ و میر فزاینده به دلیل گرسنگی مفرط و سرمای زمستان، افزایش یابد.

اوکراین یکی از بزرگترین صادرکنندگان غله در جهان است که پس از تهاجم نظامی روسیه بر این کشور، روند صادرات غله از این کشور به خارج از سوی روسیه متوقف و منجر به بحران شدید کمبود غذا در جهان شد.

وزیر خارجهٔ ایالات متحده با اشاره به بحران جهانی غذا گفت که تمدید توافقنامهٔ بین روسیه و اوکراین برای صادرات غله‌جات اوکراین به خارج که به میانجیگری سازمان ملل متحد صورت گرفت، راهی برای رسیدگی به این بحران است.



# پور، د پور مدیریت او په کوچنیو او منځنیو تشبثاتو کې د پور رول

مونږ او تاسو ټول د پور کلیمې سره آشنا یو او د نړۍ اکثریت وګړي يې تجربه هم لري، معنا دا چې یا يې له چا پور اخیستی او یا يې هم کوم چا ته پور ورکړی دی. له پور څخه سمه ګټه اخیستنه کولای شي ستاسو په ژوند کې بدلونونه رامنځ ته کړي. د بېلګې په ډول، که چېرې تاسې په نغدو پیسو د یو کور د پېرلو ځواک نه لرئ، د استوګنځي (کور) پور له تاسې سره مرسته کوي څو د خپلې خوښې کور واخلئ او وروسته په څو قسطونو کې مالي اداري ته خپل پور ورکړئ، خو باید په یاد ولرئ چې پور اخیستنه ډېر لګښت لري او د یو توکي تمام شوې بیه زیاتوي.

د پور اخیستل هغه مهال سم دي چې تاسې وغواړئ د هغې په کارونې سره په یو روښانه او مناسب پروګرام کې پانګونه وکړئ او یا هغه شی یا څه چې ورته اړتیا لرئ، د پور په اخیستلو سره هغه وپیرئ. په دې مقاله کې په ټولیزه توګه، دا چې په کومو حالتونو کې د پور اخیستل مناسب دي، په لاندې ډول وړاندې کیږي :

**د زده کړو (تحصیل) دوام:**

له مالي ادارو څخه د زده کړو د لګښت د ورکړې لپاره د پور اخیستل له دې امله مناسب ګڼل کیږي چې د لوړ کیفیت او لوړ عاید لرونکې څانګه کې زده کړې، د روښانه راتلونکي ضمانت

«

کوي. زده کړې له یو شخص سره مرسته کوي، تر څو مناسب کار ترلاسه کړي او په اجورې (مزد) سره یې خپل پور ورکړي. په همدې ډول، پور کولای شي د اشخاصو او کورنیو په ژوندانه کې مثبت رول ولوبوي.

**د استوګنځي پېرل:**

د کور د پېرلو لپاره د پور اخیستل له هغه اشخاصو سره مرسته کوي چې کور ته اړتیا لري، څو د کور خاوندان شي او د خپل پور قسطونه په اوږدمهاله توګه ورکړي. هغه اشخاص چې د کور خاوندان نه وي، معمولاً په کرایي کورونو کې ژوند کوي او کرایه ورکوي. د کور په پېرلو سره، دا اشخاص کولای شي د کرایې د ورکړې په بدل کې د خپل پور قسطونه ورکړي او د ټولو قسطونو په ورکړې سره د کور خاوندان شي. په همدې ډول، د استوګنځي پور کولای شي اړمن کسان د کور خاوندان کړي او په اقتصادي ژوند کې یې مثبت بدلونونه راولي.

**د موټر پېرل :**

د موټر د پېرل و لپاره د پور اخیستل له هغو کسانو سره چې په نغدو پیسو د موټر د اخیستلو ځواک نه لري، مرسته کوي څو د پور په کارونې سره موټر وپېري او د هغه قیمت په قسطونو سره مالي اداري ته ورکړي. د بېلګې په توګه که چېرې یو شخص له پور څخه په ګټې اخیستنې سره ټکسي موټر واخلي، کولای شي په هغه عاید سره چې له ټکسي چلولو څخه یې ترلاسه کوي، خپل پور تادیه کړي. په دې ترتیب، نوموړی شخص هم د کار خاوند او هم د خپل پور له ورکړې وروسته د موټر خاوند کېږي.

**پانګونه:**

که چیرې یو شخص د کوچني فعالیت لکه، مزرعې، د چرګانو فارم، هټۍ، نانوایي او دې ته ورته د نورو لرونکی وي او غواړي خپل فعالیت ته پراختیا ورکړي او یا برعکس یاد شخص هیڅ کار ونلري او د یو فعالیت د پیلېدو هوډ ولري، کوچني پوروونه کولای شي څو د یاد شخص د کار او فعالیت د پراختیا زمینه برابره کړي او یا هم د هغه د اقتصادي فعالیت د پیلېدو لپاره د لازمې پانګې په تأمینولو کې مرسته وکړي.

**وړاندې تر دې چې پور واخلئ دا پوښتنې له ځانه وپوښتی؟**

خلک معمولاً خپل د اړتیا وړ توکو د پېرلو لپاره پور اخلي، خو د پور اخیستلو پر مهال دې ټکې ته پام وکړئ چې د کوم کار او موخې لپاره پور اخلئ؟ باید په یاد ولرئ چې یوازې د خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره پور واخلئ او د غیر اړینو او اضافي شیانو د اخیستلو لپاره پور مه اخلئ.

کله چې غواړئ پور واخلئ او له خپل اعتباري کارت څخه ګټه پورته کړئ، غوره ده څو له ځانه وپوښتئ چې آیا د پور په اخیستلو یا د اعتباري کارت د کارولو په وسیله پېرل کېدونکي توکي یا خدمت ته اړتیا لرئ که یا یوازې د پېرلو لپاره یې لېوال یاست؟ که چېرې دا توکی ونه پیرئ، په ژوند کې به موکوم ناخوښ حالت رامنځته شي؟ که چېرې غواړئ چې یاد توکی د پور په اخیستلو سره وپیرئ، آیا د پور د قسط د بېرته ورکړې وړتیا لرئ؟ که چېرې په ترلاسه شوي پور سره یو کور واخلئ، آیا د هغې د مخکې ورکړې وړتیا لرئ؟ په دې مانا چې، که د یو کور بیه لس میلیونه افغانۍ وي او د دې ایجاب کوي چې ۲ میلیونه یې د مخکې ورکړې په توګه ورکړئ او ۸ میلیونه نورې یې بانک ورکړي، آیا د دې مخکې ورکړې وړتیا لرئ؟

**د پور اخیستلو اصول (قواعد)**

د پور اخیستلو یو اصل دا دی چې مونږ باید یواځې د خپلو تولیدي موخو او هغو شیانو لپاره چې په واقعي توګه ورته اړتیا لرو، پور واخلو، خو په کافي اندازه پیسې په واک کې نلرو او په دې توګه پور اخلو؛ لکه، د کور پېرل، د اولادونو زده کړه او داسې نور. د معقولو او مناسبو کارونو لپاره پور اخیستل کولای

»

شي ستاسې د بډاینې او شتمنی د زیاتوالي لامل شي.

دویم اصل دا دی چې له خپل مالي توان او سرچینو څخه ډېر پور باید وانخلئ چې په راتلونکي کې ترې خپل پور ادا کوئ. په دې معنی چې په هغه کچه باید پور واخلئ چې په اسانی سره وکولای شئ بېرته یې ورکړئ. د پور اخیستنې تر ټولو غوره حد دا دی چې ستاسې د پور د میاشتني قسط ورکړه باید ستاسې د میاشتني خالص عاید له ۴۰ سلنې چې د هغې مالیه مو هم ورکړې وي، زیات نه وي.

بل اصل دا دی چې شخص د خپل پور په ورکړه کې اخلاقي مسؤلیت لري او هیڅ پلمه او عذر باید نه وي. که چېرې تاسې خپل پور په ټاکلي وخت او د تړون د شرایطو مطابق ادا کړئ، د مالي ادارې پر وړاندې او حتی په ټولنه کې ستاسې د دوستانو ترمنځ به ستاسې اعتبار ته زیان ورسیږي او په راتلونکي کې به تاسې ته څوک پور درنکړي.

د یادونې وړ ده چې تولیدي پور هغه پور ته ویل کیږي چې د ارزښت لرونکو شتمنیو لکه، کور، اپارتمان د پېرل و او یا د کاروبار او سوداګریز فعالیت د پراختیا لپاره د ټکټانې د کم نرخ په لرلو او د پور د بیا ورکړې د منظم پلان پر بنسټ اخیستل کیږي .

### د پور مدیریت کول

لکه څرنګه چې پورته یادونه وشوه چې پور د خلکو په ژوند کې مهم رول لري. له دې امله چې زیات اشخاص د خپلې اړتیا وړ توکو د پېرلو مالي وړتیا نلري، د کور، موټر او هټۍ د پېرلو او د واده، زده کړو او درملنې د لګښتونو لپاره پور اخلي. که چېرې د پور له پیسو څخه په درسته توګه ګټه واخیستل شي، په دې صورت کې پور د مالي موخو د ترلاسه کولو لپاره غوره وسیله کیدای شي. له همدې امله، پور په اصل کې بد نه دی ځکه پور له اشخاصو سره مرسته کوي، څو هغه شیان چې د پېرل و لپاره یې پیسې نلري، د پور په پیسو وپېري.

خو، که چېرې تاسې د پور د بېرته ورکړې له وړتیا څخه زیات پور لاسته راوړئ، په راتلونکې کې یې په بېرته ورکړې کې ممکن له زیاتو ستونزو سره مخ شئ؛ له دې امله مهمه ده څو په هغه کچه پور واخلو چې د مدیریت وړتیا یې ولرو او پور زمونږ له مالي وړتیا سره برابر وي او له خپلې مالي وړتیا څخه پورته مالي ژمنه او مکلفیت په غاړه وانخلو.

د یادونې وړ ده چې د پور غوره مدیریت له مونږ سره مرسته کوي، څو خپلې مالي موخې ته په ښه شکل او له کومې ستونزې پرته ورسیږو.

### د پور ډولونه

پور بېلابېل ډولونه لري چې ځینې ډولونه یې په لاندې ډول وړاندې کیږي :

- **لګښتي/شخصي پور:** له هغه پور څخه عبارت دی چې د اشخاصو او کورنیو لخوا د ځینو موخو لکه، د موټر پېرل او ترمیم، د کورنیو توکو پېرل، د روغتیایي، سفر او سیاحت، د ښوونځي او پوهنتون د فیس، واده او نورو ورته کارونو د لګښتونو ورکول لپاره کارول کیږي او د لګښتي پورونو د ترلاسه کولو لپاره شخصي تضمین کافي دی.
- **د ښوونکي پور:** د ښوونکي پور یو ډول لګښتي پور دی چې د ځینو مالي او بانکي ادارو لخوا د دولتي او خصوصي ښوونځیو او پوهنتونو ښوونکو ته په اسانه شرایطو سره وړاندې کیږي څو وکولای شي خپلې اټکل شوې او نا اټکل شوې مالي اړتیاوې رفع کړي. هغه ښوونکي چې دولت سره په رسمي او ثبت شویو ښوونځیو او پوهنتونو کې تدریس کوي، کولای شي د ښوونکي پور ته غوښتنلیک ورکړي او د خپل کلني معاش ۴۰ سلنه

»

معادل مبلغ ترلاسه کړي. د بېلګې په توګه، که چیرې د یو ښوونکي میاشتنی معاش ۱۰۰۰۰ افغانۍ وي، نوموړی کولای شي تر ۴۸۰۰۰ افغانۍ پورې پور ترلاسه کړي. مالي اداره هره میاشت د یاد ښوونکي له معاش څخه ټاکلی مبلغ چې د پور د اصلي مبلغ قسطونه رانغاړي، وضع کوي. د ښوونکي پور د جایداد تضمین ته اړتیا نه لري، بلکې د یو ښوونکي د میاشتنی معاش د تضمین او یا د شخصي تضمین پر وړاندې ورکول کېږي.

- **د استوګنځي پور:** د استوګنځي پور له هغه پور څخه عبارت دی چې د مالي ادارې لخوا غوښتونکي شخص ته د استوګنځي (کور او یا اپارتمان) د پېرلو په موخه ورکول کېږي . د استوګنځي پور معمولاً د یوې اوږدې مودې پور دی او د قسطونو په بڼه بېرته ورکول کېږي چې موده یې معمولاً له ۱۰ تر ۲۰ کلونو پورې ده. په دې پور کې پېرل شوی استوګنځی د پور د تضمین په توګه د مالي ادارې په واک کې وي او په هغه صورت کې چې پوروړی شخص ونه شي کولای خپل پور په ټاکلې موده کې بېرته ورکړي، مالي ادره د خپل پور د پیسو د ترلاسه کولو په موخه له پوروړي شخص څخه د استوګنځي مالکیت ترلاسه کوي او په بېرته پلورلو سره ترې خپلې پیسې لاسته راوړي.
- **خوندي پور:** خوندي پور هغه پور ته ویل کېږي چې د تضمین په بدل کې اخیستل شوی وي. په هغه صورت کې چې یو شخص ونه شي کولای د تړون د شرایطو مطابق خپل پور په ټاکلې موده کې بېرته ورکړي، مالي اداره د نوموړي شخص تضمین په خپل مالکیت کې راولي.
- د بیلګې په توګه، هغه پور چې د یوې منقولې یاغیر منقولې شتمنۍ د تضمین په بدل کې یو شخص ته ورکول شوی وي، چې د پوروړي لخوا د نه ورکړې په صورت کې مالي اداره د یاد شخص تضمین په خپل مالکیت کې راولي.
- **ناخوندي پور:** ناخوندي پور هغه پور ته ویل کېږي چې د تضمین په بدل کې نه وي ورکړل شوی. دا ډول پورونه معمولاً د مبلغ له پلوه کوچني وي او موده یې هم کمه وي. ناخوندي پورونه د یو شخص د بېرته ورکړې د وړتیا او اعتباري سوابقو پر بنسټ د مالي ادارې لخوا یاد شخص ته ورکول کېږي. په ځینو حالاتو کې اړینه ده، څو یو ضمانت کوونکی شخص د پوروړي شخص ضمانت وکړي. اعتباري کارت او کوچني لګښتي پورونه د ناخوندي پور غوره بیلګې دي.
- **سوداګریز پور:** هغه پور ته ویل کېږي چې د اقتصادي او سوداګریزو کړنو لکه؛ د تولیدي اومه موادو او له داخل او بهر څخه د نورو سوداګریزو توکو (لکه، تیلو، غنمو، پوښاک، درملو او د هر بل توکي) د پېرل و، د تولیدي ماشین آلاتو د پېرل و او د سوداګریز کړنو د عملیاتي لګښتونو د ترسره کولو په موخه ترې کار اخیستل کېږي.

ژباړه او را ټولونه: حسیب الله نوري

سرچینې:


۱- کتاب مفاهیم مالی و بانکی/ ۱۳۹۷

۲- لمحة حول القروض وأبرز أنواعها / https://www.bayut.sa/blog

# نقش ماشین آلات در رشد و تسهیلات صنعت



کار شناسان اقتصادی به این عقیده اند که ماشین آلات نقش اساسی و تعیین کننده را در به حرکت آوردن موتور توسعه و پیشرفت جوامع بشری بدوش دارند. روی همین علت ماشین آلات در جریان دهه های اخیر مورد توجه سیاست های کلان اقتصادی کشور ها واقع گردیده است.در دهه هشتاد همزمان با افزایش چشمگیر قیمت نفت و رشد بودجه های عمرانی، معدنی، زراعتی، راه سازی و غیره افزایش غیر منتظره را تجربه کرده است که به تعقیب آن قیمت ماشین آلات در مدت زمان کوتاه نیز چندین برابر نسبت به سال های قبل افزایش یافته است.

باید گفت که در شرایط کنونی برای بیرون رفت از مشکلات و رکود اقتصادی ما نیازمند توجه جدی به تولیدات داخلی هستیم. به عقیده صاحب نظران اقتصادی اتکا به ماشین آلات و صنعت از یک سو می تواند موانع جدی موجود پیش روی اشتغال را از میان بردارد،از سوی دیگر ارتقای کیفیت محصولات تولیدی سبب خواهد شد تا با انکشاف صنعت، جایگاه واقعی کشور در زمینه صادرات تثبیت شود.

**تحکیم پایه های صنعت بر اساس انتقال تکنالوژی جدید و سرمایه گذاری های مشترک**

بخاطر تورید ماشین آلات جدید در کشور، جذب سرمایه گذاری مشترک بین شرکت های داخلی و خارجی یک امر ضروری است که چنین شرایط صاحبان کارخانه های داخلی باید صاحب ماشین آلات به روز شده و نحوه ی استفاده از آنها را یاد بگیرند. سرمایه گذاران خارجی طوری باید سرمایه گذاری کنند که تنها هدف شان از انتقال ماشین آلات سود بردن نبوده بلکه هدف در این عرصه تورید ماشین آلات و آموزش باشد. زیرا در غیر این صورت سکتور های خصوصی داخلی به شکست مواجه خواهند شد.

تورید و صنعت ماشین آلات پلیمر، پلاستیک، ادویه، غذا، کشش مفتول مانند تولید سیم و صنایع فرش و غیره یک امر ضروری پنداشته می شود. گرچه توان اولیه برای ساختن ماشین آلات پلیمر و پلاستیک در داخل کشور وجود دارد، اما تا حال در این عرصه کدام برنامه مدون وجود ندارد.

در مورد ماشین آلات فرش بافی باید گفت که در این عرصه »



ماشین آلات ساده تر و سازگارتر باسطح تکنالوژی موجود درکشور که محصولات آنها تقاضای بیشتر نیز داشته و در کشور قابل تولیدمیباشند، اما به خاطر عدم تمایل تولید کنندگان داخلی به خرید این ماشین آلات، بازاری برای تولیدات شان وجودندارد. بناءً لازم است تا بخاطر بهبود وضعیت موجود در این بخش، برای واردات ماشین آلات غیر ضروری فرش بافی، ارز تخصیص داده نشده و از تولید فرش های ماشینی تولید شده باقابلیت های صادراتی با استفاده از ظرفیت های بروز داخلی حمایت صورت گیرد.

در بخش ادویه سازی بایدگفت که عدم موجودیت مصارف در بخش ترمیم و نگهداری تعمیرات، تجهزات دوا سازی، فرسودگی این تجهیزات سبب افزایش مصارف تمام شد تولیدات ادویه در کشور شده است. همچنان تمایل شرکتهای ادویه سازی به مشارکت سرمایه گذاران خارجی موجب عدم استفاده از ماشین آلات تولید شده در داخل کشور شده است. زیرا شرکت های همکار خارجی بیشتر به استفاده از ماشین آلات بروز علاقمند می باشند. بناءً لازم است که شرکتهای داخلی با داشتن ماشین آلات بروز برای کسب استندرد های لازم اقدام نمایند.

صنایع غذایی در کشور یکی از بخش های مهم اقتصادی محسوب می گردد، اما بخاطر وارداتی بودن ماشین آلات آن ازخارج زنجیره ی این صنعت کامل نمی باشد. دراین عرصه بیلانس تجارتی کشور در تمام بخش های غذایی منفی است. با این وضعیت در موجودیت بازار های بزرگ این صنعت و وجود شرکت های خرد و کوچک سبب شده تا تولیدکنندگان داخلی »

سهم قابل قبولی دراین عرصه نداشته باشند. بناءً پیشنهاد میگردد تا زنجیره ماشین آلات غذایی در داخل کشور تکمیل گردد.

در بخش صنعت کشش مفتول بایدگفت که ماشین آلات این صنعت بیشتر ازخارج وارد میگردد. این امر باعث شده تا شرکتهای داخلی در این زمینه به ورشکستگی مواجه شوند. دربخش واردات این گونه ماشین آلات بایدگفت که توریدِ ماشین آلات دست دوم از کشور های اروپایی بازار شرکت های ماشین سازی داخلی را به خود اختصاص داده است.

تا حال بر رسی های وضعیت صنعت در بخش های فوق در کشور نشان دهنده ی بیلانس تجارتی ( اختلاف صادرات و واردات ) منفی در تمام بخش های ماشین آلات به این معنا است که تا حال ما نتوانسته ایم سهم قابل قبولی در بخش ماشین آلات داشته باشیم، بلکه بازار های داخلی را در کُل در اختیار تولیدات خارجی قرار دارد.

بخش صنعت ماشین سازی در کشور به عنوان یکی از صنایع زیر بنایی و شاخص های توسعه یافتگی شمرده می شود. وضعیت صنعت ماشین سازی در افغانستان نشان دهنده وجود ضعف زیادی نظیری سنتی بودن، نبود تکنالوژی، نبود هزینه در بخش های تحقیقاتی، عدم موجودیت رقابت پذیری، عدم تولید قطعات با کیفیت و غیره است. بناءً موجودیت موارد فوق بررسی وضعیت ماشین آلات و صنعت را در کشور به یک امر اجتناب نا پذیر مبدل کرده است.

لذا با شناخت از وضعیت کنونی ماشین آلات در کشور به آسیب شناسی مشکلات ناشی از عدم موجودیت آنها به مشکلات اصلی آنها پرداخته شده و با بررسی از تجربیات چندین کشور منتخب در صنعت ماشین سازی راه های اساسی برای توسعه صنعت ماشین آلات سازی تهیه گردد.

جهت بر رسی در این مورد ما می توانیم از تجارب کشور های مانند هند، کوریای جنوبی، آلمان و غیره در صنعت ماشین آلات سازی استفاده نمایم. تعداد از مهمترین تجربه های که می توان از این کشور ها در صنعت ماشین آلات استفاده نمود عبارت است از لزوم تبدیل نمودن صنعت ماشین سازی به یک اولویت صنعتی با برنامه منظم، موجودیت بودجه کافی، حمایت از صادرات، موجودیت حمایت دولت از تحقق و توسعه و تکنالوژی توسعه یافته، ارتقای استندرد و کیفیت ماشین آلات تولیدی، استفاده از نیروی انسانی ماهر و تخصصی در عرصه ماشین سازی یک امر اجتناب نا پذیر است.

در عرصه ی اهمیت ماشین آلات تجارب کشور های توسعه یافته نشان می دهد برای اینکه صنعت ماشین سازی در یک کشور به یک بخش تأثیر گذار در اقتصاد آن کشور مبدل شود باید موضوع تولید ماشین آلات به یک اولویت ملی تبدیل شود. از همین رو پیشنهاد می شود تا بخاطر حمایت از تولیدکنندگان داخلی باید از واردات بی رویه و غیر ضروری، و عقد قرار داد با شرکت های همکار بین المللی در ماشین آلات بر رسی شده صورت گیرد تا وضعیت صنعت در کشور بهبود یابد.

عبدالحفیظ شاهین

منابع:
۱-سهم ماشین‌آلات در توسعه معادن و عمران چقدر است؟ - دنیای اقتصاد / https://donya-e-eqtesad.com
۲- Role of Machine Tools Industry in Economic Development / https://citeseerx.ist.psu.edu › viewdoc › download
۳-الآثار الاقتصادیۀ للآلات: مزایا وعیوب – رئیسی / ... › ttps://ar.triangleinnovationhub.com



# وزګارتیا او د وزګارتیا ډولونه

هغه عمومي حالت چې پکې هغه توليدي سرچينې (معمولاً کارګره قوه) د توکو او خدمتونو په توليد کې د برخه اخيستو اراده او وړتيا ولري او عملاً د کار ترلاسه کولو په لټه کې وي، خو په توليدي کړنو کې برخه و نه لري وزګارتيا ګڼل کيږي.

دا په دې معنا کله چې يو شخص د کار کولو وړتيا ولري او د کار ترلاسه کولو په لټه کې وي، خو کار نه ورته پيدا کيږي دغه ډول شخص ته وزګار شخص ويل کيږي.

په ملي کچه د وزګارتيا د کچې کمول او اصغري حد ته د وزګارتيا د کچې راوستل د لوی اقتصاد له بنسټيزو دندو او موخو څخه ګڼل کيږي، تر څو د وزګارتيا کچه کنټرول او اصغري حد ته يې راولي. کله چې په اقتصاد کې وزګارتيا ډېره شي او وګړي د کار او دندو په پيدا کولو کې پاتې راشي، نو د وګړو د عايد کچه ټيټيږي او کله چې د

«

وګړو د عاید کچه ټیټه شوه د ژوندانه معیار (Standard of living) یې هم ټیټېږي، چې په پایله کې وګړي بې وزله کیږي.

کله چې وګړي بې وزله شول یعنی د ژوند د لومړنیو توکو په ترلاسه کولو کې پاتې راغلل، دا وګړي بې وزله ګڼل کیږي او بې وزلي د اقتصاد له لویو ستونزو څخه ګڼل کیږي.

وزګارتیا د هر هیواد شرایطو او اقتصادي حالاتو ته په کتو سره توپیر کوي، ځکه په ځینو هیوادونو کې دوراني وزګارتیا، په ځینو کې پټه وزګارتیا، په ځینو کې غیر ارادي او داسې نورې وزګارتیاوې رامنځته کیږي چې هر هیواد وزګارتیا ته په کتو تګلارې خپلوي، ترڅو د وزګارتیا مخه پرې ونیسي، دا چې وزګارتیا نظر د هر هیواد شرایطو او اقتصادي حالاتو ته په کتو توپیر کوي، نو په دې اساس د وزګارتیا بنسټیز او مهم ډولونه په لاندې ډول روښانه کیږي:

**د وزګارتیا ډولونه**

**۱- اصطکاکي وزګارتیا**

هغه وزګارتیاچې له یوې دندې څخه بلې دندې ته د تولید عواملو (معمولاً کارګري قوې) د تبدیلېدو له امله رامنځته کیږي اصطکاکي وزګارتیا ګڼل کیږي.

**۲- پټه وزګارتیا**

د تولید په پروسه کې د تولید د عواملو (معمولاً کارګري قوې) ترمنځ هغه حالت چې که چېرې یو یا څو کارګر د تولید د عملیې څخه وویستل شي په تولید کې کوم بدلون رامنځته نه شي نو د تولید په پروسه کې د کارګري قوې په منځ کې دغه حالت ته پټه وزګارتیا ویل کیږي.

د بېلګې په ډول په یوه تولیدي فابریکه کې د تولید د پروسس لپاره ۱۰۰ کسانو ته اړتیا وي، پداسې حال کې چې عملاً په یاده فابریکه کې ۱۲۰ کسان کار کوي، په حقیقت کې دغه ۲۰ کسه کارکونکي په پټه توګه وزګار دي چې دغه ډول وزګارتیا ته پټه وزګارتیا وایې، ځکه که چېرې دغه ۲۰ کسه کارکونکي له کاره ګوښه شي د تولید په مقدار کې کوم بدلون نه رامنځته کیږي.

**۳- دوراني وزګارتیا**

د وزګارتیا هغه ډول چې د کاروباري دایره یا دوران کې د کسادیا زوال د مرحلې په رامنځته کېدو سره په ټول اقتصاد کې په اقتصادي فعالیتونو کې کموالی رامنځته شي، (په ځانګړي ډول په ناخالص داخلي تولید باندې د لګښتونو اندازه راکمه شي).

د ا په دې معنی چې په اقتصاد کې د کساد یا زوال مرحله پیل شي نو ټولیزه تقاضا کمیږي چې د ټولیزې تقاضا په کمېدو سره د ټولېز تولید کچه هم کمیږي او د ټولیز تولید په کمېدو سره د کارګرانو یوه برخه له کاره ګوښه او وزګار پاتې کیږي چې په دې توګه دوراني وزګارتیا رامنځته کیږي. یا هم په بل عبارت د وزګارتیا هغه ډول چې کاروباري دوران یا دایره کې د کساد یا زوال (Contraction) مرحلې د پیل له امله رامنځته کیږي.

**۴- موسمي وزګارتیا**

د وزګارتیا هغه ډول، چې په پایله کې یې په اقتصاد کې د موسمي بدلون له امله د تولید وسایل (معمولاً کارګره قوه) چې په تولید کې د برخه اخیستو اراده او وړتیا ولري وزګار پاتې کیږي او یا هم په بل عبارت د وزګارتیا هغه ډول چې په اقتصاد کې د موسمي بدلون په پایله کې رامنځته کیږي.

د بېلګې په توګه د ژمي په موسم کې په کابل کې تقریباً ټول ودانیز کارونه په ټپه درېږي او په پایله کې هغه وګړي چې په ودانیزو کارونو کې په فعالیت بوخت وي »

وزګار پاتې کېږي.

**۵ - ټکنالوژيکي وزګارتيا**

د وزګارتيا هغه ډول چې د توليد په پروسه کې د کارګرو پر ځای د ماشين آلاتو څخه د ګټې اخيستنې په پايله کې رامنځته کېږي.

**۶ - ارادي وزګارتيا**

د وزګارتيا هغه ډول چې پکې د توليد عوامل (په ځانګړي ډول کارګره قوه) د کار کولو اراده او وړتيا ولري او په خپله خوښه نه غواړي چې د توکو او خدمتونو په توليد کې برخه واخلي يعنې دا چې لټي کوي. دې ډول وزګارتيا ته ارادي وزګارتيا وايي.

**۷ - غير ارادي وزګارتيا**

د وزګارتيا هغه ډول ته ويل کيږي چې د توليد عوامل د توکو او خدمتونو په توليد کې د برخه اخيستو اراده او وړتيا ولري، خو توليد ته د تقاضا د نه شتون له امله وزګار پاتې کېږي چې د کاروباري دوران يا دايرې د کساد يا زوال په مرحله کې يوه بنسټيزه ستونزه ګڼل کېږي.

**۸ - ساختاري يا بنيادي وزګارتيا**

که د کارګرانو مهارت د کار لپاره اړين مهارت سره سمون ونخوري، نو په دې توګه کارګران د اړينو ازمايښتي زده کړو د ترلاسه کولو په موخه د لنډ وخت لپاره وزګار پاتې کيږی چې په اقتصاد کې د کارګرې قوې دا ډول وزګار پاتې کېدل د ساختاري وزګارتيا څخه عبارت دی چې معمولاً په ټکنالوژي کې د پرمختګ په پايله کې رامنځته کېږي.

د بېلګې په توګه په توليد کې د نوي او عصري ټکنالوژۍ څخه د ګټه اخېستنې له امله کارګرانو ته د ټرېننګ ورکولو له امله هغوی د لنډ وخت لپاره وزګار پاتې کيږي.

د وزګارتيا او د وزګارتيا د ډولونو په پېژندلو سره دې پايلې ته رسيږو چې په اقتصاد کې وزګارتيا په بشپړ ډول له منځه وړل او سل سلنه استخدام رامنځته کول امکان نه لري، ځکه که چېرې د وزګارتيا ډولونو ته وګورو يو ډول وزګارتيا چې روښانه شوې ده ارادي وزګارتيا ده، يعني ځينې خلک د کار کولو وړتيا لري خو په خپله خوښه نه غواړي چې کار وکړي. که چېرې د وزګارتيا د نورو ټولو ډولونو مخه ونيول شي، خو بيا هم په اقتصاد کې ارادي وزګارتيا شتون لري. نو په دې اساس په اقتصاد کې بشپړ يا سل سلنه استخدام رامنځته کول امکان نه لري او تل يوه ډله وګړي وزګار پاتې کيږي.

**نهضت الله ستانکزی**
**ده ختيځ زون اقتصاد پوه**
**د پولی سياست لوی آمريت**


سرچينې:

1. Unemployment: Its Measurement and Types
2. https://www.rba.gov.au/education/resources/explainers/unemployment-its-measurement-and-types.html
3. Types of Unemployment: Understanding Each Type/Articles | View all blog posts underBachelor's in Human Resource Management 8
4. https://online.maryville.edu/blog/8-types-of-unemployment-understanding-each-type
5. انواع بیکاری/ تاریخ چاپ/ ۱۳۹۵/۰۷/۱
6. https://donya-e-eqtesad.com

# د هیواد د اسعاري زېرمو په اړه د افغانستان بانک خبرتیا!

د افغانستان بـــانک یوه خپلواکه اداره ده چې د نړیوالو منل شــوو معیارونو، قــوانینو او مقــرراتو په رڼا کې فعالیتونه ترسره کوي او خپل نړیوالو مکلفیتونه په ځانګړې توګه د پیســو مینځلو او د جنایتکارو ډلو د تمویل سره د مبارزې په برخه کې په ښه ډول مراعاتوي. د خپلو دندو د ترســره کولو لپاره کافي ظرفیت او تخصص لري او لا هم خپل پخواني د لوړو زده کړو لرونکي متخصصین په واک کې لري او کړنې یې په شــفافه توګه د بې طرفه متخصصو پلټونکو لخوا څېړل کېږي چې ښه بېلګه یې د تېر کال لاسته راوړنې دي، نو ویلای شو چې دې قضیه کې شوې ادعاوې د اعتبار وړ نه دي.

د افغانستان بانک د اسعارو زېرمې د افغانانو ملکیت دی او له کلونو راهیسې د پولي ثبـــات، مالي سیســـتم د پیاوړتیا او له نړۍ سره د سوداګرۍ د اســـانتیا په موخه کارول کېږي. د امریکا د متحـــده ایالتونو هغه پرېکړه چې په سویس هیواد کې د یوې ادارې د جوړولو او هلته د افغانستان د اسعارو د زېرمو د یوې برخې د لېږد او غیر مرتبطو برخو ته د هغو ځانګړې کول، د خوندیتوب او روښتیا اړین معیارونه په پام کې نه نیول، د افغانستان بانک اندېښنو ته نه پاملرنه، دا ټول د افغانستان د خلکو په حـــق کې نا عادلانه پرېکړه ده. دا چې دا پرېکړه د افغانستان د خلکو د رښتینو استازو په نه شتون او د افغانستان بانک له ګډون پرته شوې، د منلو وړ نه ده.

د افغانستان بانک غواړي چې د هیواد د بهرنیو اسعارو په زېرمو باندې لګول شوي محدودیتونه په بشپړه توګه لیرې کړل شي، تر څو د خپل اغېزناک او شفاف مدیریت له لارې ټاکل شوو موخو ته ورسېږي. په دې برخه کې هر ډول یو اړخیزه پرېکړه او هر ډول توجیه د منلو وړ نه ده.

د افغانستان بانک چمتو دی چې د نړیوالو اندېښنو د حل لپاره د نړۍ له هیوادونو او پېژندل شوو ســازمانونو سره هر اړخیزه همکاري وکړي. تمه کېږي چې په دې مسئله کې ښکېل هیوادونه او سازمانونه به د افغانستان بانک او اړوندو ادراتو سره د رغنده خبرو اترو له لارې د منلو وړ او دوامداره حل د تر لاســه کولو لپاره اړین ګامونه پورته کړي.






# هموطنان عزیز!

**بانکها یگانه محل مصون نگهداری پول شما میباشد.**

**با سپرده گذاری در بانکهای مجوز، در کنار آرامش فکری، آینده خود و فرزندان خود را تضمین نموده و در رشد و شکوفایی کشور سهیم شوید.**

# بانک

ماهنامۀ د افغانستان بانک
سال شانزدهم شماره ۱۸۲ صفر المظفر ۱۴۴۴ (سنبله ۱۴۰۱)



## چگونگی مراحل مختلف صادرات و واردات